# دهقان
هفته‌نامه



## هلمند کې د مرخیړیو کرکیله ښه پایله ورکړې
۵

هفته‌نامه دهقان ▪ شماره یکصدوسی‌ام ▪ شنبه ▪ ۲حوت ▪ ۱۳۹۹



# خشک‌کننده آفتابی، تضمین‌کننده رشد اقتصادی خانواده‌های بی‌بضاعت
۳

## جلسه‌ی کمیته اجرایی انکشاف سکتور خصوصی (پرایسک) برگزار شد



جلسه‌ی چگونه‌گی پیش‌رفت اجراات گروه کاری دوم «پرایسک» تحت ریاست، حشمت‌الله غفوری معین آبیاری و منابع طبعی وزارت زراعت برگزار گردید. در این جلسه، مشاور معاونیت اول ریاست جمهوری، مشاور کمیته «پرایسک»، اتاق تولیدات زراعت و مالداری، فدراسیون اتاق‌های تجارت افغانستان شماری از رییسان مربوط وزارت زراعت اشتراک داشتند. حشمت‌الله غفوری معین آبیاری و منابع طبیعی گفت که در سال ۱۴۰۰ ساخت ۱۴ سردخانه عصری در ۱۲ ولایت کشور با ظرفیت ۱۵۰۰ متریک تن برای میوه‌جات که عملاً کارشان جریان دارد ساخته خواهد شد. هم‌چنان هشت سردخانه کوچک با ظرفیت ۱۰۰ تُن در ولسوالی‌هایی که بیش‌تر محصولات عمده را دارا می‌باشند، ایجاد خواهد شد و همین طور سه ساختمان قرنطین‌ایستشین در ولایت‌های بندری ساخته و شش مرکز بزرگ پروسس میوه‌جات به گونه عصری اعمار خواهد شد. در این جلسه، درباره‌ی پیش‌رفت تطبیق ریفورم‌ها توسط ادارات مسوول، روی موضوعات خصوصی‌سازی تدویر نمایشگاه‌های زراعتی توسط سکتور خصوصی در بادام‌باغ، تجهیز لابراتوارهای قرنطین حیوانی و نباتی در ولایت‌های بندری، تسریع روند ایجاد سردخانه‌های عصری میوه‌جات و در ولایت‌های بندری، ایجاد باغ‌های تجارتی و مراکز پروسس معیاری برای محصولات زراعتی به خصوصی آلوبخارا، شکرپاره و عناب در ولایت‌هایی که بیش‌ترین تولیدات این میوه‌ها را دارند، صحبت شد. سب‌سایدی شش درصدی در پروژه‌ها برای کودکان و خانم‌هایی که در صنعت قالین‌بافی کار می‌کنند و هم‌چنان مشکلات در دهلیز هوایی برای صادرات محصولات زراعتی و نیز پروژه نهال برای صلح، از موارد بحث شده در این نشست بود.



## بدخشان؛ ولایتی با ۱۵۰ نوع گیاه طبی با ارزش
۵



## روزانه بیش از یک تُن روغن کنجد در سرپل تولید می‌شود
۳

## ننگرهار کې په ۱۷۵۰ مالدارانو د څارویو خوراکي توکي ووېشل شوه



د ننگرهار د کرنې، اوبولگولو او مالدارۍ ریاست د کرنې وزارت له دویم ملي لومړیتوب څخه د ملاتړ پروژې (SNaPP۲) په همکارۍ ددې ولایت په ۱۴ ولسوالیو کې په ۱۷۵۰ بېوزله مالدارانو د څارویو ۸۸ مېټریک ټنه مترکم خوراکي توکي وېشلي دي. د ننگرهار د کرنې رییس انعام الله صافی وایي، چې ددې ولایت د « پچیراگام ، چپرهار، رودات، مومندره، لعلپوره ،بټي کوټ، غني خېل، گوشته، کامه، کوزکونړ، دره نور، بهسود او خوگیانو» ولسوالیو پر ۱۷۵۰ بېوزله مالدارانو د څه باندې ۲.۳ میلیونه افغانیو په ارزښت ۸۸ مېټریک ټنه د څارویو متراکم خوراکي توکي وېشل شوي دي. ښاغلی صافی وایي، چې د یادو حیواني خوراکي توکو د وېش موخه مالدارانو ته د متراکمو خوراکي توکو دودول، دمالدارانو هڅول، د لبنیاتو او غوښو زیاتوالي، د مالونو ښه روزنه، د مالدارانو ملاتړ او په بېړنیو حالاتو کې مالدارانو سره د څاریو د خوراکي توکو مرسته کول دي.

## پنجشېر کې پر یوشمېر مېرمنو ۸۰ وړې شنې خونې وېشل شوي دي



د پنجشېر ولایت د کرنې، اوبولگولو او مالدارۍ ریاست وایي، چې د روان کال په ترڅ کې د کرنې وزارت د بڼوالۍ او مالدارۍ ملي پروژې له لارې د پنجشېر ولایت پر یوشمېر مېرمنو ۸۰ وړې شنې خونې وېشلي دي. دغه شنې خونې د یو میلیونه او ٦٧۴ زره افغانیو په لگښت وېشل شوې، چې موخه یې دکورنیو د خوړو خوندیتوب او د سبو تولید دی. دغه راز سږکال د پنجشېر د عنابې په ولسوالۍ کې بزگرانو ته د چوپړونو وړاندې کولو په پار د ۳۷۵ زره افغانیو په ارزښت یو مرکز هم جوړه شوې ده. یاد مرکز بزگرانو او بڼوالو ته تخنیکي او مسلکي مشورې ورکوي.

# د بزگر خبرې

## ونې او نیالګي د ځمکې نبض دي

اوس چې، په ساړه موسم کې یو. د کورونو تودول د ډېرو لوګیو د ایجادولو لامل کیږي. په دې حال کې کوم شي، چې په فجیعانه ډول زیانمنیږي، هوا او چاپېریال دي.
بل زیانونه چې تر ډېره په کلیوو کې د ژمي په مسوم کې طبیعت ورسره مخامخیږي، د سون توکو لپاره د ونو پرې کول دي.
د یو مسوولیت منونکی هېوادوال په صفت باید د لوګیو د تولید د کچې په ټیټولو کې مرسته وکړو او ترڅنګ یې زموږ د سږو د اکسیجن د تامینوونکي په صفت ښه داده، چې باید له ونو سره خواخوږي او مهربانه ووسو.
ونه د طبیعت د ښکلا تر ټولو غوره ملاتړ کوونکی دی. دغه راز د ودانۍ او زرغونتیا الګو او د ژوند، د هوا د پاکوالي او دخلکو د سوکالۍ او ارامتیا او د طبیعت د پاکوالي او ښکلا لامل دی.
له ونو پرته ژوند او طبیعت، دواړه ناانډوله او بدرنګه کېږي. د انسانانو په ژوند او د طبیعت په صحنه کې د نو او ځنګلونو شتون، د ښکلا، ښادۍ، زرغونتیا، سوکالۍ، پاکۍ او طراوت لامل کیږي.
ونې او نیالګي د ځمکې نبض دي او د انسانانو او حیواناتو او حتا د یوشمېر ګیاوو د حیات اصل دي، ځکه چې نیالګي او ونې د سیمې د ګازاتو له ډلې کاربن ډای اکسایډ او د اکسیجن تولید، چې د انسانانو او حیواناتو له اساسي اړتیاوو څخه دی، د انسانانو د ژوند د دوام او د طبیعت د چرخې د سلامتیا لامل کېږي. د نیالګیو کموالۍ او د ځنګلونو له منځه وړل په ځانګړې توګه د لوګیو او ماشیني ژوند په دې عصر کې، د انسانانو او حیوانانو د نسل د انقراض لامل کېږي.
د ونو او نیالګیو پاڼې او ښاخونه د څارویو او کله ناکله د انسانانو د تغذیې مهمه برخه جوړوي او د انسانانو د مصرفي غوښو په تولید کې(له ګیاوو څخه د حیواناتو په تغذیې سره) لومړنۍ ونډه لري.
نیالګي او ونې کولای شي، چې د کرنیزو خاورو د فرسایش مخه ونیسي او د سېلابونو راوتو په صورت کې د کرنیزو ځمکو د خوندیتوب لامل شي.
تر ټولو مهمه دا چې، نیالګي د آب‌وهوا په بدلونونو او د دوی ترمنځ د اعتدال په رامنځته کولو کې رغنده رول لري.
د ځنګلونو رامنځته کول او پراختیا نه یوازې دا چې د اوبو او هوا پر لړۍ اساسي اغېزې لري، ترڅنګ یې د الوتونکو، څارویو او نورو اهلي او وحشي حیواناتو په حشر او نشر او په ټوله کې د طبیعت د چرخې په تعادل کې رغنده ونډه لري.
د ونو او نیالګیو رېښې او سیورې، د هغو ګیاوو د خوندیتوب او ودې په برخه کې، چې په خپله نه شي کولای د اوبو د جذبولو لپاره خپلې رېښې د ځمکې اعماقو ته ورسوي او یا په ګرمو موسمونو کې د لمر د مستقیمو وړانګو ځواک او تحمل ونه لري او یا د تندو بادونو او بارانونو پر وړاندې د مقاومت توان ونه لري، رغنده اغېزې لري.
د منې په موسم کې د ونو له پاڼو او ښاخونو بزګران او بڼوال هم لازمې ګټې پورته کوي.
د منې په موسم کې د ونو له رژېدلو پاڼو څخه کولی شو چې «سره» متراکمه سره، چې توره خاوره (کرنیزه خاوره) نومیږي جوړ کړو. دا ماده د خاورې په واسطه د اوبو د ساتنې کچه لوړوي. ونه، نیالګي او په ټوله کې ځنګلونه د ونو د پاڼو او ښاخونو په ملتیا سره د بادونو د سرعت کچه ټیټوي او رېښې یې خاورې خوندي ساتي او د خاورې د فرسایش مخه نیسي. د ځنګلونو په منځ کې د ارامې هوا له وجې تبخیر ډېر لږ دی، او د خاورې د وچېدو ګواښ چې د فرسایش د پیل مهمه برخه دي، له منځه ځي.
یادو ټولو موضوعاتو ته په کتو، غواړو ووایو چې د لوګیو په تولید کې د ونډې نه اخسیتو ترڅنګ، باید ونې پرې نه کړو. د ونو پرېکول زموږ او زموږ د ماشومانو د ژوند دربښو پرېکول دي.

## د هلمند په قوریو کې څه باندې یو میلیون او ۲۵۰ زره نیالګي روزل شوې



د هلمند د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست په دې ولایت کې د بڼونو جوړولو او زرغونتیا په پار هلې ځلې کوي، چې په ترخ کې یې سږکال دیاد ولایت په خصوصي او دولتي قوریو کې څه باندې یومیلیون او ۲۵۰ زره ډول ډول نیالګي روزلي او د نیالګیو اېښودو په کمپین، چې موده مخکې پیل شوی دی، اېښودل کېږي.
د هلمند دکرنې رییس زلمی الکو وایي، چې د یاد یومیلیون او ۲۵۰ زره نیالګیو له ډلې یو میلیون نیالګي یې د خصوصي سکټور په مرسته او ۲۵۰ زره نیالګي یې د هلمند دکرنې ریاست له خوا په دولتي قوریو کې روزل شوې، چې د هلمند ولایت په مرکز او ټولو ولسوالیو کې به کېښودل شي.
زلمی الکو وویل، چې له دولتي قورویو څخه به ځمکوالو او بزګرانو ته ۵۸ زره او ۲۰۰ نیالګي ورکړل شي.
د ښاغلي الکو په خبره سږکال د هلمند په نهرسراج، نادعلي، ګرمسېر او ناوې ولسوالیو کې دمېوو ۴۰۰ جریبه بڼونه هم جوړېږي، چې په ټولیزه توګه به په دغو بڼونو کې ۲۵ زره او ۶۰۰ نیالګي کېښودل شي.
زلمی الکو زیاته کړه، چې د یادو کړنو ترڅنګ سږکال د ببرې ۶۰ زره نیالګي هم په ځنګل کې کېنول کېږي، چې د شاتو مچیو روزنکو ته د اسانتیا ترڅنګ په هلمند کې د بیرې شات تولید او د شاتو مچیو د فارمونو د پراختیا لامل شي.

## بغلان کې د کوچیانو څاروي واکسینېږي



د بغلان د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست وایي، چې د کرنې وزارت اړوند د خلکو په ګډون دکرنې او مالدارۍ پروژې «DCA/CLAP» له لارې په دې ولایت کې د کوچیانو څاروي د لېونتوب یا «انټروټوکسمیا«ETV پر وړاندې واکسینېږي.
ددغو څارویو د واکسین لړۍ پرون د دوشي ولسوالۍ د کیله ګۍ له سیمې څخه پیل شو. ټاکل شوې، چې ددې کمپین په لړ کې به د دوشي، پلخمرې، مرکزي بغلان او نهرین په ولسوالیو کې د کوچیانو نږدې ۱۲ زره ورې او وزې د انټروټوکسیمیا یا لېونتوب پر وړاندې په سبسایډي ډول واکسین شي.

## د سرپل پر یوشمېر کروندګرو مېرمنو ۳۰ شنې خونې وېشل شوې



د سرپل ولایت دکرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست په دې ولایت کې د مېرمنو د پیاوړتیا او د دوی لپاره د کاري فرصتونو د برابرولو په پار سږکال پر یوشمېر کروندګرو مېرمنو ۳۰ شنې خونې وېشلي دي.
دغه راز ۸۰۰ مېرمنې د کرکېلي په بېلابېلو برخو او ۶۸ مېرمنې د زعفرانو دکرکېلي په برخه کې روزل شوي دي او ترڅنګ یې د پسرلي او منې په موسم کې پر ۶۲۰ مېرمنو د سبو تخمونه هم وېشل شوي دي.

## د سرپل پر یوشمېر کروندګرو مېرمنو ۳۰ شنې خونې وېشل شوې



د فارياب د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست چارواکي وايي، چې د روان کال په ترخ کې ددې ولایت په کچه ۲۴۰ زره کورني څاروي د ساري او د انسانانو او حیواناتو ترمنځ د ګډو ناروغیو پر وړاندې واکسین شوي دي.
دغه راز سږکال د فارياب ولایت دوه زره او ۵۶۰ مالداران هم د حیواناتو د تغذیې، د حیواني ناروغیو سره د مبارزې او دغه راز د سایلچ جوړولو د لارو چارو په برخه کې روزل شوي دي. په همدې حال کې ددې ولایت پر زیانمنو کوچیانو ۸۷ مټریک ټنه دڅارویو خوراکي توکي «کانسنټریټ» او د څارویو د ځيګر د چونجیو ضد درمل هم وېشل شوي دي.

# خشک‌کننده آفتابی، تضمین‌کننده رشد اقتصادی خانواده‌های بی‌بضاعت



صدیق خالد
کارمند ارتباطات «CPMO»

دل جان ۵۰ سال دارد و یکی از بانوان زراعت‌پیشه در مرکز ولایت بامیان است. او سرپرستی یک خانواده هشت نفری را به دوش داشته و از چندین سال بدین‌سو برای امرار معیشت، با مشکلات فراوانی دست‌وپنجه نرم می‌کرد. دل جان از سال‌ها بدین‌سو در مزرعه کوچک خود، بادنجان رومی و دیگر سبزیجات را کشت می‌کند، اما به دلیل نبود یک دستگاه معیاری خشک‌کننده سبزیجات و میوه‌جات، او نمی‌توانست محصولات مزرعه‌اش را نگهداری و با این روش تمام مصارف خانواده‌اش را تامین کند.

دل جان و دیگر دهقانان در قریه‌ی‌شان به دلیل نبود امکانات کافی مجبور هستند هر سال همه‌ی محصولات زراعتی را در همان فصل برداشت به قیمت پایین بفروشند، اما امسال از سوی وزارت زراعت، آبیاری و مالداری تحت پروژه سکتوری انکشاف زنجیره ارزش باغداری «HVCDSP» یک پایه خشک‌کننده آفتابی به او کمک شد تا بتواند محصولات زراعتی را با استفاده از این دستگاه خشک بسازد و در فصل‌های بعدی با بهای مناسب بفروشد. او حالا نه تنها محصولات مزرعه‌ی خودش را با استفاده از خشک‌کننده آفتابی خشک می‌کند، بل از دهقان‌های دیگر نیز محصولات زراعتی‌شان را خریده و سپس خشک می‌کند. دل جان با این کار زمینه یک تجارت کوچک را به خود مهیا ساخته که از این طریق برای خانواده‌ی هشت نفری‌اش زمینه یک زندگی مرفه را فراهم ساخته است.

دل جان در مورد این دستگاه می‌گوید: «ما از سال‌ها بدین‌سو از نبود یک خشک‌کننده آفتابی معیاری رنج می‌بردیم، قسمی‌که هر سال مقدار زیادی از محصولات زراعتی‌مان به دلیل نبود یک خشک‌کننده آفتابی معیاری ضایع می‌شد. همچنان همه‌ساله از نور عادی آفتاب برای خشک کردن محصولات زراعتی استفاده می‌کردیم که به صورت کل، یک طریقه معیاری نبود. من هر سال محصولات زراعتی را در بام‌ها هموار می‌کردم که خاک و دیگر مواد مضر با آن یک‌جا می‌شد و استفاده از این محصولات از دید صحت درست نبود، اما با به دست آوردن این دستگاه، تمام مشکلات‌مان در عرصه خشک نمودن محصولات زراعتی رفع شد. قسمی که امسال بر علاوه محصولات مزرعه خود، از دیگر دهقان‌ها نیز محصولات زراعتی را خریداری و با استفاده از این دستگاه خشک کردم.»

دل جان می‌افزاید: «از روزی که خشک‌کننده آفتابی به دست آورده‌ام، زندگی‌مان از لحاظ اقتصادی خوب شده است، قسمی که رومی، مرچ سبز، زردآلو و انواع سبزیجات و میوه‌جات تازه را خریداری کرده و بعد با استفاده از خشک‌کننده آفتابی این محصولات را خشک می‌سازم و در بازارهای محلی بامیان با قیمت مناسب می‌فروشم که با این کار عاید قابل ملاحظه نیز به دست می‌آورم.»



دهقانان در نقاط مختلف کشور به صورت معمول از طریقه‌های غیر معیاری جهت خشک کردن محصولات زراعتی استفاده می‌کنند که از لحاظ صحی قابل اطمینان نیست و مشکلات صحی را به بار می‌آورد. اما باید گفت که خشک‌کننده‌های آفتابی، که از سوی پروژه سکتوری انکشاف زنجیره ارزش باغداری در هشت ولایت کشور به بانوان زراعت‌پیشه توزیع شده، معیاری بوده و محصولات زراعتی را با در نظر داشت تمام مقررات صحی خشک می‌کند و دهقانان آن‌ها را به بازارهای داخلی عرضه می‌کنند.

خشک‌کننده‌های آفتابی یادشده ظرفیت خشک کردن ۵۰ تا ۷۰ کیلو گرام محصول زراعتی را در یک وقت دارند و از سه تا پنج روز این مقدار محصولات را خشک می‌کنند. در کل خشک‌کننده‌های توزیع شده از یک طرف در عرصه کاهش بی‌کاری کمک می‌کنند و از سوی دیگر جلو ضایع شدن محصولات زراعتی را تا حد امکان می‌گیرند. قابل یادآوری است که پروژه سکتوری انکشاف زنجیره‌ی ارزش باغداری از سوی بانک انکشاف آسیایی «ADB» تمویل می‌گردد.

# روزانه بیش از یک تُن روغن کنجد در سرپل تولید می‌شود



راپور: درخشان صدیقی
ژباړه: جمعه گل اشرفی

ریاست زراعت، آبیاری و مالداری ولایت سرپل، می‌گوید که میزان تولید روغن کنجد در این ولایت، روزانه به ۱.۳۸ متریک تُن می‌رسد.

میزان تولید روغن کنجد طی سال جاری در ولایت سرپل، به ۵۰۲ متریک تُن رسیده است.

افرادی که در بخش تولید کنجد فعالیت دارند، می‌گویند که روغن کنجد به دو شیوه‌ی سنتی و عصری توسط دستگاه‌های کوچک تولید می‌شود.

روغن‌های تولید شده برعلاوه‌ی رفع نیازمندی‌های خود ولایت سرپل، به ولایات همجوار از قبیل جوزجان و بلخ نیز صادر می‌شود.

در همین حال، معلومات اداره احصاییه و معلومات نشان می‌دهد که در شش ماه اول امسال، به ارزش ۳۱هزار و ۶۲۹ دالر، روغن کنجد به بیرون از کشور صادر شده است. انتظار می‌رود تا اخیر سال میزان صادرات روغن کنجد افزایش چشم‌گیر داشته باشد.

پیش از این گفته شده بود که حاصلات کنجد و زغر در سرپل امسال جمعاً به بیش از پنج هزار و ۴۰۰ تن رسیده است.

در سال جاری سه هزار و ۲۸۲ هکتار زمین آبی و للمی، تحت کشت نبات کنجد بوده که دو هزار و ۱۰۷ متریک تن کنجد برداشت گردیده است، در همین حال هفت هزار و ۳۱۰ هکتار زمین آبی و للمی در بستر کشت نبات زغر قرار داشته که سه هزار و ۳۴۸ متریک تن زغر حاصلات داشته است.

ریاست زراعت ولایت سرپل می‌گوید قسمت از تولیدات زغر و کنجد این ولایت به ولایات هم‌جوار صادر می‌گردد، در این ولایت از کنجد و زغر به شیوه سنتی پروسس صورت می‌گیرد و روغن خوراکی از آن استحصال می‌گردد که به شکل محلی مصرف می‌گردد.

در ولایت سرپل نباتات تیلی چون کنجد، زغر، شرشم و گل آفتاب‌پرست به پیمانه زیاد کشت می‌شود که سالانه حاصلات فراوان از آن به دست می‌آید. هم‌چنان در ولایت سرپل انجمن نباتات تیلی به سطح مرکز و ولسوالی‌ها که شامل کنجد، زغر، شرشم و گل آفتاب‌پرست ایجاد شده که سهم فعال در رشد کشت نباتات تیلی دارند.

از کنجد و زغر در مواد خوراکی، شیرینی‌باب، روغن و مواد خوراکه حیوانات استفاده صورت می‌گیرد. قیمت یک سیر زغر ۳۵۰ تا ۵۰۰ افغانی بوده، هم‌چنان قیمت یک سیر کنجد ۴۵۰ تا ۶۰۰ افغانی در بازار محلی به فروش می‌رسد.

شماری از باشنده‌گان این ولایت از نبود مرکز پروسس، جمع‌آوری به شکل سنتی و نبود مارکیت و بازاریابی این محصول شکایت دارند و می‌گویند پیشه‌وران کوچک و سنتی این ولایت هنوز هم محصولات تیلی‌شان را توسط آسیاب‌هایی که توسط شترها و سایر حیوانات چرخانده می‌شود، پروسس می‌کنند و بازار مناسبی برای فروش ندارد.

نیاز محمد یک تن از دهاقین در ولسوالی بلخاب ولایت سرپل می‌گوید، «در گذشته روغن کنجد و زغر ارزش فراوانی در کشور داشت و در پخت‌وپز هم‌چنان داروهای طبابت استفاده بیش‌تر می‌شد، امروز ساحه فروش کم است، لوازم به خاطر پروسس آن وجود ندارد، ما از دولت می‌خواهیم که کارخانه پروسس کنجد، زغر و سایر محصولات تیلی را ایجاد کند.»

وی علاوه کرد، بهترین روغن کنجد است، هیچ نوع درد را ایجاد نمی‌کند، خوب مزه‌دار است در غذا، هم نام‌دار است در پخت پز، ما از مردم خودشان خواهشمندیم که از محصولات مخصوصاً روغن وطنی‌شان استفاده کنند به جای این‌که از دیگر روغن‌های وارد شده استفاده کنند.

شیرآقا از پروسس‌کننده‌گان خرد در ولسوالی کوهستانات ولایت سرپل گفته است: «ما تخم کنجد را جمع‌آوری می‌کنیم، به همان طریقه سابقه آسیاب می‌کنیم اما خیلی وقت‌گیر است و فایده زیاد نمی‌ماند اما مردم خیلی می‌خرند، فروش زیادتر داریم به پختن غذا و چرب کردن هم‌چنان به خاطر تداوی امراض چون شکر، کلسترول بلند و فشار خون، علاقه‌مند روغن کنجد استند. در یک شبانه روز اگر کار کنیم تا ۴۰ تا ۵۰ کیلو حتا ۶۰ کیلو روغن پروسس می‌کنیم.»

نه تنها کنجد بلکه از دانه زغر نیز برای ثابت نگه‌داشتن شکر و فشار خون استفاده می‌شود و قلب و سیستم عروقی بدن را محافظت می‌کند، علاوه این روغن برای درمان نفس‌تنگی و بیماری‌های استخوان نیز مفید است. ولایت سرپل یکی از ولایت‌های زراعتی در زون شمال کشور بوده که بیش از ۴۴ هزار هکتار زمین زراعتی آبی و ۳۲ هزار هکتار زمین زراعتی للمی را دارا است، که معیشت اکثریت نفوس آن رابطه مستقیم با زراعت داشته است، کنجد و زغر از محصولات عمده زراعتی این ولایت می‌باشد.

# هلمند کې د مالدارۍ سکټور غوړېدلی او ورځ تربلې په پراخېدو ده



نورالله پتمن
خبريال



هلمند د افغانستان په سویل لویدیځ کې پروت یو له هغو ولایتونو څخه دی چې د کرنې، بڼوالۍ او مالدرۍ لپاره پراخې سیمې، کرنیزې ځمکې او د اوبو کولو مهمې سرچینې لري چې هر کال یې د کرنیزو محصولاتو او مالدارۍ له لارې کروندګر او مالدارن ښه عاید لاسته راوړي او له دې لارې د ژوند لګښتونه پوره کوي. د دې ولایت ډېرى خلک په کرنه او مالدارۍ بوخت دي، چې د بېلابېلو سبو، غلو دانو او مېوو د تولید ترڅنګ، په دغه ولایت کې د مالدارۍ صنعت هم غوړېدلی دی.

د هلمند د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست چارواکي وايي، چې د نورو اړوندو سکټورنو تر څنګ د مالدارۍ سکټور هم د ودې او پراختیا په حال کې دی، چې په پار یې د کرنې ریاست او همکارو پروژو له لارې یو لړ پرګرامونه او برنامې هم پلي شوي دي.

د هلمند د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست د معلوماتو له مخې په هلمند کې د دودیزې مالدارۍ ترڅنګ د مالدارۍ ګڼ شمېر، چې په کې «د کبانو روزنې، د شاتو مچیو، چرګانو، لړمانو، غواوو او وزو فارمونه» شامل دي شتون لري، چې یادو فارمونو څخه ډول ډول محصولات او اړین توکي لاسته راځي او یادو فارمونو کې زرګونو کسانو ته په نېغه او نانېغه توګه د کار زمینه هم برابره شوې ده.

د هلمند ولایت د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ رییس زلمی الکو وايي، چې د دې ولایت د مالدارۍ سکټور د پراختیا او لا پیاوړیتا په پار یې له فارم لرونکو سره په ګډه هڅې چټکې کړې دي، چې د مالدارۍ ټولنې او له دوی سره د ثبت شویو مالوماتو له مخې دا مهال په یاد ولایت کې د چرګانو روزنې ۱۱۹ لوی او کوچني فارمونه شتون لري، چې نږدې ۵۶۱ زره او ۳۲۰ په شاوخوا کې غوښین چرګوړي او چرګان پکې روزل کېږي، چې له یادو فارمونو څخه په هرو ۴۵ ورځو کې یوزرو ۱۲۲ متریک ټنو په شاوخوا کې غوښه تولیدېږي.

همدارنګه دکرنې ریاست په چوکاټ کې یو باب مجهزه هیچري چې د ۱۲۵زره هګیو څخه د بچیو ایستلو وړتیا لري د خصوصي سکټور په چوکاټ کې نوي په فعالیت پیل کړې دی او ترڅنګ یې د چرګانو خوراکي چمتو کولو «فیډمیل» چې په هر ساعت کې د څلور متریک ټنه خوراکي جوړولو وړتیا لري هم فعال شوی دی.

ددې ترڅنګ په یاد ولایت کې د خصوصي سکټور له لارې د وزو روزلو دوه فارمونه هم جوړې شوي دي، چې نږدې ۳۰۰ راسه وزې د نسلونو او شېدو د تولید په موخه پکې روزل کیږي.

د هلمند د کرنې ریاست د مالوماتو له مخې د دغو فارمونو تر څنګ د غواوو روزنې برخې ته هم د مالدارانو لوالتیا د پام وړ ده، چې دا مهال په یاد ولایت کې د غوا روزنې ٦٦ فارمونه جوړ شوي چې یوزرو ۹۸۰ راسه د شېدو غواوې پکې شتون لري. د هلمند ولایت د غواوو له شته فارمونو او د هغو مالدارانو له خوا چې په دودیزه بڼه مالدارۍ کوي د ورځې نږدې ۲۳ زره او ۴۸۰ لیټره شېدې تولید او بازار ته وړاندې کېږي. په دې ولایت کې د لبنیاتو د پلور ٦۲ بابه مرکزونه هم موجود دي.

د هلمند په ولایت کې د کرنې ریاست اړوند د مالدارۍ فارم چې د ظاهر شاه په وخت کې جوړه، خو د وروستیو جګړو له امله تخریب او غیر فعاله شوې وه، د خصوصي سکټور پر مټ بېرته فعال او د امهال پکې ۵۰ شیدې ورکونکې غواوې روزل کېږي.

د یادو فارمونو ترڅنګ په دې ولایت کې، د شاتو تولید، مچیو او کبانو روزنې فارمونه هم د یادولو وړ دي، چې دا مهال د مچیو له ۱۵۵ فارمونو څخه د کال نږدې ۱۷ ټنه شات او د کبانو له ۴۲۴ فارمونو څخه د یو زرو او ۹۰۰ ټنو غوښې په تولید سره د هلمند سربېره ګاونډیو ولایتونو ته هم صادرېږي. د هلمند د کرنې رییس زلمي الکو په وینا د کبانو صنعت د پراختیا په پار یې د کبانو رزونکو لپاره په دوه جریبه ځمکه کې یو څړنیز فارم چې د کبانو روزنې فارمونه پکې جوړ شوي دي هم جوړ کړی دی چې پکې زرګونه کب روزنکو ته عملي او نظري زده کړې ورکول کېږي. همدا شان په دې ولایت کې د لړمانو روزلو دوه ستر فارمونه هم شتون لري، چې په دواړو کې نږدې ۷۰زره او ٦۰۰ لړمان د زهرو د تولید په پار تر روزنې لاندې نېول شوي دي.

د هلمند د کرنې ریاست په وینا د مالدارۍ سکټور د لا پیاوړي کېدو او پراختیا په پار د کرنې وزارت د پراختیایي بودیجې له لارې د مصنوعي القاح یو مرکز جوړ او ګټې اخستنې ته سپارل شوي او په ورته وخت کې د مالدارۍ د ښو نسلونو د تولید او د ناروغیو د مخنیوي په پار نږدې ۵۱ بابه حیواني کلینیکونه هم فعالیت لري، چې چې د همدې کلینیکونو له لارې په ۱۳۹۹ کال کې نږدې یو میلیون څاروي درملنه او نږدې ۹۰۰ زره بېلابېل حیوانات واکسین شوي دي.

دغه راز په دې ولایت کې د مالدارۍ د مصنوعي القاح ۱۴ مرکزونه شتون لري، چې هرکال نږدې ۴٦۰۰ حیوانات القاح کېږي او ترڅنګ یې د طاعون او بروسلوز ناروغیو پر وړاندې هرکال نږدې ۱۳۵ زره ډول ډول حیوانات واکسینېږي.

د یاد ولایت د مالدارۍ فارمونو ته په داسې حال کې د پراختیا او ودې زمینه برابره شوې، چې د هلمند د کرنې ریاست له لورې د دې ولایت مالدارنو او فارم لرونکو ته په ګڼو برخو کې بېلابېل پراګرامونه او برنامې پلي شوي دي. روزنیزې برنامې، د مالدارانو روزل، په مرکز او ولسوالیو کې د ناروغو څارویو سمپل اخېستل، د کنې او کانګو ضد کمپاینونه په لاره اچول، دواپاشي، د واکسینونو پلي کول، عامه پوهاوی او مالدارانو ته د مالدارۍ اړوندو توکو ورکړه نورې هغه چارې دي، چې مالدارنو او فارم لرونکو ته ترسره شوي دي.

## خاک جبار کې د مصنوعي القاح یو مرکز ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه



د کابل ولایت د خاک جبار په ولسوالۍ کې د مصنوعي القاح یو مرکز ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه. د یاد مرکز په پرانیست غونډه کې د کابل دکرنې رییس عمرجان منګل وویل: «د مصنوعي القاح دا مرکز ددې ولسوالۍ په کچه مالدارانو سره د مرستې او د اصلاح شویو خوسکیو د نسل د زیاتوالي په پار جوړه شوې ده. موږ ژمن یو چې د هېواد په پلازمېنه کې د ولسوالیو په کچه د یادو مرکزنو په جوړولو سره د اصلاح شویو غواوو د نسل زیاتوالي، د لبنیاتو او غوښو زیاتوالي په برخه کې اغېزناک ګامونه وچت کړو.» یاد مرکز د کابل دکرنې ریاست له پراختیایي بودیجې څخه د نږدې دوه میلیونه افغانیوپه لګښت جوړه شوې ده.

## د کابل په قره‌باغ کې د حیواني واکسینو په وېش سره د کوچي مالدارانو ملاتړ



د کابل ولایت د قره‌باغ ولسوالۍ د هوتکي په کلي کې د انټوروټوکسیمیا یا لېونتوب نهه زره او ۱۰۰ ډوزه واکسینونه وېشل کېږي.

دا شمېر واکسین افغانستان لپاره د هالنډ کمېټې له خوا چمتو او د کابل د کرنې ریاست دمالدارۍ برخې له لارې د یادې کلي پر کوچیانو وېشل کېږي.

یاد واکسین د سب یایډي په بڼه د کوچیانو په واک کې ورکول کېږي.

# هلمند کې د مرخېړیو کرکیله ښه پایله ورکړې





جمعه‌گل اشرفی
خبریال

د هلمند د کرنې، اوبولگولو او مالدارۍ ریاست له خوا په دې ولایت کې په توافقي ډول مرخېړي کرل شوې وه، چې پایله یې ډېر ښه او مثبته ده.

د هلمند دکرنې رییس زلمي الکو وایي، د مرخېړیو ارزښت ته په کتو غواړي، چې په دې ولایت کې د مرخېړیو کرکیله ترویج کړي چې له یوې خوا د کوکنارو ښه بدیل دی او له بلې خوا د بزگرانو په اقتصادي وده کې هم رغنده رول لري.

د ښاغلي الکو په خبره په همدې موه ددې ولایت ۴۰ بې وزله مېرمنو ته په کور د ننه د مرخېړیو د کرکېلي زمینه برابره شوې ده، چې اوس یې مرخېړې په حاصل راغلي دي او حاصل یې د هلمند ولایت بازار ته د پلور په پار وړاندې شوي دي.

زلمی الکو وایي، چې د ملگرو ملتونو دخوړو نړیوالې ادارې په مالي او د بشري قواوو پراختیایي ادارې په تخنیکي همکاریو د هلمند ۴۰ کونډو، بې سرپرسته او بې وزله مېرمنو ته په خپلو کورنیو کې د مرخېړیو د روزنې په برخه کې د کار زمینه برابره شوې ده. یادو مېرمنو ته د مرخېړیو د کرکېلي او تولید ۱۵ اړین توکي او د مرخېړیو د تولید او ټولولو په برخه کې اړینې روزنې ورکړل شوي دي، ترڅو له دې لارې مرخېړي تولید او خپلې ورځنۍ اړتیاوې وربانديې پوره کړي.

له دغو مرستو برخمن شوې مېرمنې خوښ دي، چې په کور د ننه ورته دکار زمینه برابره شوې او له دې لارې د خپلو کورنیو اړتیاوې پوره کوي.

د هلمند د کرنې، اوبولگولو مالدارۍ ریاست هلې ځلې کوي، چې کروندگرو ته نوښتونه او نوي لارې چارې ور وپېژنې، چې د دوی په اقتصاد کې د مثبت بدلون لامل شي.

د مرخېړیو تولید او پالنه اسانه او په بازار کې یې بیه لوړ ده. کروندگر کولای شي، چې له دې لارې ښه عاید تر لاسه کړي.

د هلمند دکرنې رییس وایي د کرنې ریاست هلې ځلې کوي، چې د مرخېړیو ترڅنگ گڼ شمېر نور ارزښت لرونکي بوټې هم په دې ولایت کې ترویج کړي ترڅو د کوکنارو د کرکیلې مخه ونیول شي.

د کرنې، اوبولگولو او مالدارۍ وزارت دهلمند ترڅنگ په نورو ولایتونو کې هم د مرخېړي د کرکېلي د ترویج په پار هڅې کوي؛ د کرنې، اوبولگولو او مالدارۍ وزارت له خوا د مرخېړیو د پالنې لسگونه مرکزونه جوړ شوي دي. ددغو مرکزونو د جوړلو موخه د مېرمنو او بېوزلو کورنیو اقتصادي ودې ته زمینه برابرول دي.

# بدخشان؛ ولایتی با ۱۵۰ نوع گیاه طبی با ارزش

مهرداد احمدی
گزارش‌گر

بدخشان در شمال‌شرق کشور، از دوردست‌ترین ولایت‌های کوهستانی است. این ولایت با کشورهای چین، تاجکیستان و پاکستان مرز مشترک دارد.

بدخشان، ولایت پُرنفوس و دارای بیش‌ترین ولسوالی در سطح کشور است. بدخشان با آنکه جمعیت بیشتری را در مقایسه با برخی از ولایت‌های دیگر در خود جای داده است، اما به دلیل کوهستانی بودنش دارای زمین‌های زراعتی آبی کم‌تر است. هرچند زمین‌های زراعتی آبی در بدخشان محدود است، اما وجود گیاهان مختلف طبی، حیوانات وحشی نادر به ویژه پلنگ برفی، آهوی مارکوپولو و برخی پرنده‌گانی که در دیگر ولایات کم‌تر به چشم می‌خورند، چراگاه‌های وسیع و معادن مختلف از جمله لاجورد، منابعی اند که بدخشان را نسبت به دیگر ولایات متفاوت می‌سازد.

ولایت بدخشان، آب‌وهوای مناسب برای رشد باغداری، زراعت للمی و گیاهان طبی با ارزش دارد. در بخش‌های باغداری، مالداری و زراعتی طی سال‌های اخیر در این ولایت فعالیت‌های نسبتاً مناسبی صورت گرفته است، اما در زمینه رشد و پرورش گیاهان طبی که از فرصت‌های مناسب برای بهبود اقتصاد محلی و ملی به شمار می‌رود، فعالیت چندانی صورت نگرفته است.

سید معین‌الدین رییس زراعت، آبیاری و مالداری ولایت بدخشان، از گیاهان طبی این ولایت به عنوان «سرمایه آینده» نام می‌برَد و می‌گوید که در این ولایت بیش از ۱۵۰ نوع گیاه طبی رشد می‌کند اما تاکنون روی این بخش تحقیق و سرمایه‌گذاری نشده است.

او گفت: «بدخشان اقلیم خوب و مساعد برای رشد و پرورش میوه‌جات، به ویژه برای چهارمغز، گیلاس، آلوبالو، زردآلو، سیب و ناک و امثال این‌ها دارد و در اکثر ولسوالی‌ها توسط پروژه ملی باغداری و مالداری ترویج هم شده است. اما، یک بخش دیگر که بالایش هیچ کاری نشده و سرمایه‌ی بسیار خوب در آینده است، نباتات طبی است. ما در ولسوالی‌های مرزی و اکثر کوه‌های بدخشان ۱۵۰ نوع نبات طبی داریم که تا حال در باره این‌ها مطالعه‌ی صورت نگرفته و تنها کمی فعالیت‌هایی برای گسترش و رشد گیاهان طبی هنگ و زیره شده و در دیگر بخش‌ها مطالعه‌ی صورت نگرفته است.»



زیره ولایت بدخشان، شهرت خاصی دارد و عمده‌ترین تحفه‌ی سفر به بدخشان، زیره این ولایت است.

سید معین‌الدین هم‌چنین گفت: «هر نبات طبی محل پرورش خاص خود را دارد و برخی گیاهان طبی در این ولایت وجود دارند که در دیگر ولایات نیستند. اما، کوه‌های بدخشان برای پرورش نباتات طبی مساعد است.»

رییس اداره زراعت، آبیاری و مالداری ولایت بدخشان افزود که او قبلاً درخواستی مبنی بر اعزام یک تیم تخنیکی و تحقیقی به بدخشان، به وزارت زراعت ارایه کرده بود تا روی گیاهان طبی این ولایت تحقیق شود. سید معین‌الدین گفت که به این درخواست توجهی صورت نگرفت.

ولایت بدخشان دارای حیات وحش منحصر به فرد است. به گفته رییس اداره زراعت این ولایت، توجه به حیات وحش این ولایت و پارک ملی واخان، دیگر زمینه‌ی برای رشد اقتصاد محلی و ملی به شمار می‌رود. به گفته‌ی او، در این زمینه‌ها نیز طی سال‌های اخیر توجه خاصی صورت نگرفته و دست‌آورد خاصی به دست نیامده است. او گفت: «حیات وحش و پارک ملی واخان که پس از پارک بند امیر دومین پارک ملی است، یک زمینه‌ی فوق‌العاده برای رشد اقتصادی است. اما، این‌ها صرف به نام است و از هشت سال به این سو، سالانه حدود پانزده نفر را برای نه یا ده ماده برای حفاظت از پارک و حیات وحش استخدام می‌کنیم، اما دیگه کدام دست‌آوردی در زمینه‌ی توسعه و شناسایی حیات وحش نداریم.»

سید معین‌الدین می‌گوید که باید زمینه‌ها برای بازدید گردش‌گران داخلی و خارجی از پارک ملی واخان و حیات وحش بدخشان مساعد شود و حداقل در گام نخست مهمان‌خانه‌ای در پارک وجود داشته باشد. او گفت که توجه به این پارک می‌تواند یک منبع خوب درآمد برای وزارت زراعت باشد.

وی تاکید کرد: «یکی از فرصت‌های مهم، جلب توریسم است. گردش‌گران ابتدا تاجیکستان می‌روند و بعد وارد پارک واخان می‌شوند. منفعتی که ما از این پارک و حیات وحش بگیریم، تاجیکستانی‌ها می‌گیرند.»

رییس زراعت بدخشان گفت که وضعیت امنیتی در ساحه پارک واخان قابل نگرانی نیست، اما نبود مهمان‌خانه و برخی از تسهیلات لازم دیگر، باعث شده گردش‌گران خارجی از مسیر خود ولایت بدخشان به پارک ملی واخان نروند.

سید معین‌الدین می‌گوید که مالداری نیز از جمله فرصت‌هایی است که به بهبود شرایط اقتصاد محلی کمک می‌کند. به گفته‌ی او، بدخشان دارای چراگاه‌های وسیع است، اما برای رشد مالداری و استفاده‌ی موثر از این چراگاه‌ها طی سال‌های اخیر توجه چندانی نشده است.

# ارزګان کې نږدې ۷۴ پراختیایي پروژې پلي شوې دي




د ارزګان دکرنې ریاست چاراوکو، د یاد ریاست د ۱۳۹۹یم مالي کال د کړنو په هکله ددې ولایت خلکو ته حساب ورکړ او د ۱۴۰۰ام مالي کال پلانونه یې له خلکو سره شریک کړل.

ملت ته د دولت حساب ورکولو په پروګرام کې د ارزګان دکرنې رییس انجنیر احمدشاه خیري وویل، چې په ۱۳۹۹یم مالي کال کې د کرنیزو محصولاتو مدیریت د پروژو ترځنګ د ارزګان د کرنې ریاست په دې ولایت کې نږدې ۷۴ پراختیایي پروژې پلي کړې دي، چې په کې د پیازو او کچالو صفر درجې زېرمتونونه، د منوا او انارو سړې خونې، نوي بڼونه او د نیالګیو قوریې جوړول، د اصلاح شویو تخمونو وېش، د حیواني او نباتي ناروغیو مخنیوی، بزګرانو اومالدارانو ته روزنیز پروګرامونه او عامه پوهاوی شامل دي.

ښاغلي خیري وویل، چې په ۱۳۹۹یم کال کې یې یوزرو ۲۴۰ جریبه نوي بڼونه او سوداګریزې بڼونه هم جوړې کړې دي. احمدشاه خیري زیاته کړه، چې د یادو پروژو په پلي کېدو سره د ارزګان ولایت دکرنې په سکټور کې د پام وړ بدلون رامنځته شوی او ترڅنګ یې ګڼو خلکو ته اوږدمهال او لنډمهالې دندې برابرې شوې دي.

# نورستان کې نباتي ناروغیو او افتونو سره د مبارزې کمپاین پیل شو



د نورستان د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست له خوا په دې ولایت کې نباتي ناروغیو او افتونو سره د هر اړخیزې مبارزې کمپاین په لاره اچول شوی دی.

په دې کمپاین کې دیاد ریاست د فني کارکوونکو له خوا بڼوالو او بزګرانو ته د نباتي ناروغیو او افتونو د وقایې هر اړخیزې لارې چارې په عملي او نظري ډول ښودل کېږي.

د نورستان د کرنې ریاست د چاراوکو په وینا، چې ددې کمپاین په ترځ کې بڼوالو او بزګرانو ته د ترکیبي درملو جوړولو لارې چارې ښودل کېږي او دغه راز ددې پروسې له لارې شاوخوا ۲۰۰ بڼوالو ته بوردومیکسچر ژمنې تېل اونور وقایوي درمل هم ورکول کېږي.

د چاراواکو په خبره؛ د ترکیبي درملو په استفادې سره د ونو مضره حشرې، د ونو پر تنو ځالګې او بېلابېلې ناروغۍ له منځه ځي، چې په پایله کې ونې او ښاخونه ښه وده او نمو کولی شي.

د نورستان د کرنې ریاست هلې ځلې کوي، چې بزګران د کیمیاوي درملو د استفادې پر زیانونو وپوهوي او دغو ګواښونو د مخنیوي په پار د افتونو او ناروغیو مخه په میخانیکي لارو چارو ونیسي ترڅو له روغتیایي او اقتصادي پلوه ګټور تمام شي.

# کندهار کې د نیالګیو اېښودو کمپین پیل شو



د کندهار د کرنې، ابولګولو او مالدارۍ ریاست له خوا په دې ولایت کې د نیالګیو ایښودو کمپین د کندهار والي روح الله خانزاده، د کرنې رییس سیدحفیظ الله سیدي، سیمه ییزو چاراوکو او د خلکو استازو په شتون کې پیل شو.

په دې اړه جوړه شوې غونډه کې د کندهار والي روح الله خانزاده، د کندهار ولایت له اوسیدونکو غوښتنه وکړه، چې په دې کمپین کې برخه واخلي ترڅو هېواد مو زرغون او د سولې، ورورۍ او اخوت پیلامه شي.

د کندهار والي وویل «د کندهار ولایت د زرغونتیا او سمسورتیا په پار دې ټول کندهار یان هلې ځلې وکړي، نیالګي دې کېنوي او او پر وخت یې پالنه وکړي.

په همدې حال کې د کندهار د کرنې رییس سیدحفیظ الله سیدي وویل، ددې لپاره چې کندهار یو ګرمسېر ولایت دی، د نیالګیو اېښود لړۍ په کې د سلواغې په میاشت کې پیل او د کب تر پایه ادامه لري.

ښاغلی سیدي وویل، چې ددې کمپین په ترځ کې د کندهار د کرنې ریاست له خوا د ښار په بېلابېلو برخو کې ۱۲۰ زره نیالګي اېښودل کېږي او ترڅنګ یې د کندهار په اوو ولسوالیو کې د ۳۰۰ جریبه نویو بڼونو جوړولو په پار هم پر بڼوالو نیالګي وېشل کېږي.

حفیظ الله سیدې وویل،چې سږکال د کندهار دکرنې اداري له خوا د ۱۲۰ زره نیالګیو سربېره د خصوصي سکټور په نرسریو کې نږدې یو میلیون نیالګي تولید او پر بزګرانو او بڼوالو د وېش په پار چمتو شوي دي.

د کندهار ولایت د کرنې ریاست ددې ولایت له خلکو غواړي، چې په دې کمپین کې ونډه واخلي او د ونو او نیالګیو ساتنې او څارنې ته ځانګړې پاملرنه وکړي.

# د سپینو زرو د تولید او صادراتو زیاتوالی



محمدتمیم صدیقی
خبریال

پنبه چې، په نړۍ کې په سپين زر هم يادېږي له زعفران وروسته د افغانستان له ارزښت لرونکو توليدي بوټو څخه شمېرل کېږي. اوسمهال بلخ، هلمند، کندز اوهرات کې د پنبې کرکېلي او توليد ته ورځ تربلې د خلکو لېوالتيا زياتېږي او له زعفرانو وروسته ياد نبات د هېواد د سترو کورنيو توليداتو په ډله کې دی.

پنبه له هغو صنعتي نباتاتو څه دی، چې د سيمې او نړۍ په کچه ورته اړتيا ورځ تربلې زياتېږي.

په افغانستان کې د پنبې د ښه کيفيت ترځنګ، د مناسبې اوبو او ځمکې شتون، د مساعد اقليمي شرايطو شتون، عايد لرونکو نباتاتو کرکېلي ته د بزګرانو لېوالتيا، بهرنيو هېوادونو ته د صادراتو په پار د دوو سوداګريزو بندرونو شتون، د پنبې د پروسس او صادراتو د شرکتونو شتون او د سيمه ييزو بازارونو شتون ددې لامل شوي، چې افغانستان د ياد ارزښت لروکي نبات په توليدوونکی هېواد بدل کړي.

په دې برخه کې هغه ولايتونه در پېژنو چې د پنبې د کرکېلي په برخه کې مخکښ دي.

**بلخ:**

بلخ څه باندې ۳۵ زره ټنه مالوچ توليد کړی دی.

د بلخ د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ رياست په دې ولايت کې د پنبې د کروندو د زياتوالي خبره کوي او وايي، چې سږکال ددې ولايت په ۱۹ زره او ٦۰۰ هکتاره ځمکه کې پنبه کرل شوې وه، چې د تېرکال په پرتله ٦۰۰ هکتاره زياتوالی ښيي.

د بلخ د کرنې رييس سالم ساعي وايي، چې سږکال د بلخ په ولايت کې نږدې ۵۰ زره ټنه مالوچ توليد شوي دي. خو د کرنې وزارت د احصايي شمېرې ښيي، چې په ۱۳۹۹يم کال کې د بلخ د مالوچو د توليداتو کچه څه باندې ۳۵ زره ټنه ده.

د ښاغلي ساعي په خبره د بلخ ولايت د شولګرې، دهدادي، نهرشاهي، شورتپه، کلدار، دولت آباد، بلخ، چهاربولک او چمتال ولسواليو کې تر نورو سيمو د پنبې کرکېله زيات دي او ددې ولايت د پنبې ډېره برخه په يادو ولسواليو کې توليدېږي. هغه زياته کړه، چې د پنبې بېلابېل نژادونه (ورايټي) شتون لري خو د پوزه ايشان، ترکۍ او اکالا نژادونه يې د پنبې د سيمه ييزو تخمونو په پرتله لوړ حاصل ورکوي او ښه کيفيت لرونکي دي. د ساعي په خبره د يادو تخمونو د حاصل منځنۍ کچه د خاورې د توليد د کيفيت په پرتله توپير کوي.

مالوچ د کورني بازار ترځنګ نړيوال بازار هم لري، چې په سمه توګه بسته بندي کېږي او پاکستان ته صادرېږي.

پنبه په دوو پړاوونو کې راټولېږي، چې ورته «چين» وايي. له پنې څخه دمالوچو د ټولولو لومړي پړاو په داسې وخت کې پيلېږي، چې د پنې غوزې ٦۰ سلنه وغوړېږي او د پنبې کروندې ځانته سپين رنګ غوره او په سپين رنګ ښايسته شي. له پنبې څخه د مالوچو ټولولو دويم پړاو له لومړي پړاو څخه دوه اوونۍ وروسته پيلېږي خوکه تر دوو اوونيو د پنبې غوزې لانه وي غوړېدلې ورته فرصت ورکوي، چې د منې باران او يا د منې د پرخې په واسطه يې غوزې نمجنې شي او چې کله هوا ګرمه شي بيا يې غوزې وغوړېږي، چې په دې پړاو کې ټولې غوزې او پنبې ټولېږي.

کله چې له کروندو څخه پنبه راټول شي، بيا د پنبې ساقې لمر ته اچول کېږي، چې ښه وچ شي بيا د سون لرګي په توګه ورڅخه ګټه پورته کېږي، چې بزګران له دې لارې هم ښه ګټه



تر لاسه کوي.

د بلخ ولايت د دهدادي ولسوالۍ يو تن بزګر عارف وايي، له څو کالو را په دېخوا د پنبې کرکېله کوي. هغه چې پنځه جريبه ځمکه لري، ښه عايد هم ترې تر لاسه کوي. عارف د کرنې له وزارته غواړي، چې دياد محصول د افتونو او ناروغيو په برخه کې له دوی سره لازمې مرستې وکړي.

د شورتپې ولسوالۍ يوتن ځمکوال قادر بيا وايي، د خدای شکر دی، زحمت باسو او ښه حاصل ترلاسه کوو، د مزارشريف مالوچ ښه نوم او بازار لري. په کورنيو بازارونوکې هره کليو پنبه له ۱۲۰ تر ۱۴۰ افغانيو خرڅېږي.

**هلمند:**

د هلمند د پنبې سږني حاصلات لس سلنه زيات شوي دي.

د هلمند دکرنې، اوبولګولو او مالدارۍ رياست وايي، چې ددې ولايت د پنبې سږني حاصلات د تېرکال په پرتله لس سلنه زيات شوي دي.

د هلمند دکرنې رييس زلمی الکو وايي، چې سږکال ددې ولايت په ۱۵ زره او ۵۴۵ هکتاره ځمکه کې پنبه کرل شوې وه، چې له يادو کروندو څخه ۱۷ زره او ۹۹ ټنه پنبه توليد شوي دي.

زلمي الکو وويل، چې د هلمند ولايت د مرکز ترڅنګ ددې ولايت د نادعلي، مارجې، ګرمسېر، خانشين، ديشو، ناوه، ګرشک، سنګين، کجکي، موسی کلا، باغران، نوزاد او واشېر ولسواليو کې د پنبې کرکېله کېږي.

پنبې کرکېلي ته د هلمند مناسب اقليمي شرايط ددې لامل شوي، چې په دې ولايت کې د پنبې کرکېله ښه پايله ورکړي او ياد ولايت د پنبې د توليد په برخه کې د سترو توليدوونکو ولايتونو په ډله کې راشي.

د موسی کلا ولسوالۍ يو تن اوسيدونکی اجمل وايي، چې د هلمند مالوچ ځانګړې شهرت لري. هغه چې لس جريبه ځمکه لري، د نورو محصولاتو ترڅنګ پنبه هم کري. هغه وايي، چې پنبه ښه عايد او بازار لري. اجمل د کرنې له وزارته غواړي، چې د پنبې د بازارموندنې په برخه کې له دوی سره همکاري وکړي.

**هرات:**

هرات کې سږکال يوزرو ۷۰۳ ټنه مالوچ توليد شوي دي.

د هرات دکرنې رياست وايي، چې ددې ولايت د پنبې سږني حاصلات د تېرکال په پرتله لس سلنه زيات شوي دي. د هرات د کرنې رياست د کرنيزو چارو امر بشير احمد وايي، چې سږکال ددې ولايت په يوزرو ۱۳۵ هکتاره ځمکه کې پنبه کرل شوې وه، چې له يادو کروندو څخه يوزرو ۷۰۳ ټنه مالوچ تر لاه شوي دي.

بشير احمد وويل، چې د وخت په تېرېدو سره په دې ولايت کې د پنبې د پروسس فابريکې ډېرې شوي دي او د هرات مالوچ د پاکستان، چين او ترکمنستان هېوادونو ته صادرېږي.

د ځمکې شتون، د اوبيزو سرچينو شتون، مناسب اقليمي شرايط او د بشري سرچينو کافي شتون ددې لامل شوي، چې د هرات ولايت په يوشمېر ولسواليو کې د پنبې کرکېلي او توليد ته لار هواره کړي. د هرات په ولايت کې له زعفرانو وروسته پنبه هغه ارزښت لرونکی محصول دی، چې بزګران يې کرکېلي او توليد ته ډېره لېوالتيا لري.

د هرات هغه بزګران چې د پنبې کرکېله کوي وايي، چې له زعفرانو وروسته پنبه هغه بوټی دی، چې ښه عايد لري او د کوکنار ښه بديل دی.

د هرات ولايت د انجيل ولسوالۍ يوتن بزګر کريم وايي، چې په دې وروستيو کې پنبې کرکېلي ته د هراتي بزګرانو لېوالتيا زياته شوې ده، او د هرات ولايت اوبو او هوا ته په کتو په دې ولايت کې د پنبې کرکېله ښه پايله ورکوي. کريم وايي، هلې ځلې کوي، چې تر دې وروسته د پنبې په برخه کې پانګونه وکړي، ځکه کورني او نړيوال بازار لري.

د هرات ولايت د ګذرې ولسوالۍ يو تن بزګر اجمل بيا وايي، چې پنبه يو عايد لرونکی محصول دی. څو کاله کېږي، چې ۱۰ جريبه ځمکه کې پنبه کري او حاصل يې بازار ته وړاندې کوي، خو د دولت او خوصوصي سکټور له نه پاملرنې سرټکوي او وايي، چې په دې برخه کې په سمه توګه پانګونه نه ده شوې.

**د پنبې په هکله:**

پنبه د صنعتي نباتاتو له ډلې څخه يو ګټور او ارزښتناک نبات دی او د څو کلنو نباتاتو په ډله کې راځي مګر د نړۍ په ډېر شمېر هېوادونو کې د يو کلن بوټي په څېر کار اخيستل کېږي. پنبه د نړۍ د ٦۰ څخه په ډېرو هېوادونو کې کرل کېږي، چې له هغې ډلې څخه عمده توليدونکي هېوادونه يې چين، هند، روسيه، مکسيکو، برازيل، پاکستان، سوډان، ترکيه دي. موادو يو ستر قلم هم د پنبې په دانه کې له۲۰-۲۷سلنې پورې غوړي شته او په ډول ډول خواړو کې ترينه استفاده کېږي. هغه کنجاړه چې له پنبه دانې څخه تر لاسه کېږي تر ٤۰ پورې پروتيني مواد لري او همدارنګه پوټکي يې د پنبه دانې فرعي محصولات تشکيلوي د څارويو لپاره ښه غذا ده .

پنبه هغه بوټی دی، چې کښت لپاره کافي اوبو ته اړتيا لري، د اوبو کموالی او د تودوخې زياتوالی ددې لامل کېږي، چې د پنبې بوټي ژر ګل وکړي. په هغو سيمو کې چې د ورښتونو کلنۍ کچه يې ۴۰۰ تر ٦۵۰ ميلي مترو ته رسېږي د پنبې کرکېله ښه پايله ورکوي، خو په ټوله کې د پنبې بريالی کښت د پنبې کروندو ته منظمه اوبه ورکول او دغه راز د کروندو د اوبوکولو ترمنځ دقيقه فاصله او په منظمه توګه اوبه کول دي.

هفته‌نامه دهقان

صاحب امتیاز: وزارت زراعت، آبیاری و مالداری
(۰۷٦٦٤۰۰٦۰۰ - akbar_rostami۱۰@yahoo.com)
مدیر مسوول: سید نورالعین ۰۷۹۳٤۰۵۵۹۹ - snoorulainn@gmail.com
دبیران: ظفرشاه رویی، جمعه‌گل اشرفی
گزارشگران: گیتی محسنی، شفیق‌الله نوری، شجاع‌الحق نوری
نعیم رضایی، حشمت‌الله حبیبی، مینا افسری
عبدالواسع خان‌زاده، محمد تمیم صدیقی و نور الله پتمن
برگ‌آرا: بشیر رسا

نشانی برقی: Public.relation@mail.gov.af
ویب‌سایت: www.mail.gov.af
فیس‌بوک: وزارت زراعت، آبیاری و مالداری / د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت
تویتر: @MAIL_AF
شماره‌های تماس: ۰۷٦٦٤۰۰٦۰۰ ۰۷٤۸۰۰۹۱۳۷
آدرس: جمال مینه، کارته سخی، کابل، افغانستان

DEHQAN WEEKLY

STANDARD AGRICULTURE: ACCESS TO GLOBAL MARKET

No: 130 ▪ Dehqan Weekly ▪ Saturday ▪ February 20th ▪ 2021

# ننگرهار د شاتو د تولید په برخه کې تر ټولو مخکښ ولایت



ننگرهار د افغانستان ختیځ کې پروت ولایت دی. یاد ولایت ۲۲ ولسوالی لري؛ اچین، بټي کوټ، چپرهار، هسکه مېنه، ښېوه، خوگیاڼي، شېرزاد، پچیراگام، حصارک، کوټ، نازیان، سپین غر، غني خېل، گوشته، مومندره، لعلپوره، بهسود، سره رود، دره نور، دورباba، رودات او کامه یې ولسوالۍ دي.

ننگرهار چې، د ځانگړې هوا او غوره کرنیزو تولیداتو له کبله همیشه بهار یې هم بولي د بېلابېلو شاتو او گلانو په لرولو سره د شاتو د تولید په برخه کې د هېواد تر ټولو مخکښ ولایت دی، چې سږ کال په دې ولایت کې ۵۰۰ متریک ټنه شات تولید شوي دي.

د ننگرهار د کرنې، اوبولگولو او مالدارۍ ریاست چارواکي وايي، چې په ننگرهار کې د شاتو مچیو نږدې ۶۰۰ لوی او واړه فارمونه شتون لري، چې له ۳۵ تر ۴۰ زره د شاتو کورنۍ په کې روزل کېږي.د چارواکو په خبره، د ننگرهار د شاتو مچیو په فارمونو کې له ۲۲ تر ۳۰ ډوله د شاتو مچۍ شتون لري او په دغو فارمونو کې نږدې دوه زره ښځینه او نارینوو ته د کار زمینه هم برابره شوې ده.

په دې وروستیو کلونو کې په ننگرهار کې د شاتو مچیو د ساتلو دود وده کړې او هغه شمېر کسان، چې په دې ولایت کې د مچیو فارمونه لري، وايي چې د شاتو مچیو په ساتلو سره یې تر ډېره بریده اقتصادي ستونزې هوارې شوې دي او له همدې لارې د خپل ژوند لومړني اړتیاوې پوره کوي.

په دې ولایت کې د شاتو مچیو لرونکي وايي، چې د شاتو مچۍ په کم وخت کې تولید پیلوي او دغه راز د شاتو د مچیو ساتل د اقتصاد له پلوه د ارزښت وړ گڼل کېږي، ځکه د شاتو مچیو په روزلو سره د زیات شمېر کسانو په ژوند کې مثبت بدلون راغلی دی.

د ننگرهار په سیمه ییزو بازارونو کې په منځنۍ کچه د یوه کیلو گرام شاتو بیه له ۲۵۰ تر ۵۰۰ افغانۍ ده. ددې ولایت شات د کابل په گډون یوشمېر نورو ولایتونو کې هم پلورل کېږي.

دغه راز د کرنې وزارت په همکارۍ، ننگرهار کې د شاتو مچیو روزونکو د کاروبار د غوړېدا او ددې ولایت د مچیو روزونکو د ملاتړ په پار د شاتو د کیفیت معلوملو یو لابراتوار هم جوړه شوی ده.

یاد لابراتوار په دې ولایت کې د شاتو مچیو د صنعت د ودې او د شاتو د معیاري تولید او پروسس په موخه جوړه شوې ده.

د کرنې وزارت له خوا د دولت، موسسو، شاتو مچیو روزونکو او د شاتو تولیدوونکو ترمنځ د اړیکو ټینگولو او بازار موندنې په پار ننگرهار ولایت کې د شاتو مچیو ټولنه هم جوړه شوي ده. دغه ټولنه د کروندگرو او شاتو مچیو روزونکو د ستونزو هوارولو ترڅنگ د شاتو مچیو صنعت ته د ودې ورکولو او د شاتو د تولید په برخه کې هم کار کوي.

د ننگرهار د شاتو مچیو روزنې د ټولنې د چارواکو په خبره، د ننگرهار شات د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې خرڅیږي، چې دمگړۍ په هلمند، بلخ، کابل او هرات کې فعالې ځانگې لري او ترڅنگ یې د نورو ولایتونو پر هټیوالو هم خرڅیږي. یاده ټولنه په ننگرهار کې د شاتو د تولید پنځه کارځایونه هم جوړې کړي دي.

ننگرهار د شاتو مچیو روزلو او شاتو تولید لپاره مناسبه هوا او چاپېریال لري او دا ددې لامل شوې، چې په دې ولایت کې د شاتو مچیو روزلو صنعت ورځ تر بلې وده وکړي.

افغانستان کې د ننگرهار، بدخشان، تخار، بلخ، هلمند، پنجشېر، پروان، کاپیسا، غزني او هرات ولایتونو شات تر نورو نوموتي شات دي. د شاتو مچیو روزلو لپاره تر ډېره غرنۍ سیمې او هغه سیمې چې پاکه هوا، طبیعي بوټي او گلان ولري غوره بلل کیږي، چې په یادو سیمو کې د روزل شویو مچیو شات تر نورو ښه کیفیت لرونکي او غوره شات دي.

# ارزگان کې د نیالگیو اېښودو کمپین پیل شو







د ارزگان د کرنې، اوبولگولو او مالدارۍ ریاست له خوا په دې ولایت کې د نیالگیو اېښودو کمپین د ارزگان سرپرست والي انجنیر نعمت الله بختیار، د کرنې رییس احمدشاهخیري، سیمه ییزو چارواکو او د خلکو استازو په شتون کې پیل شو.

په دې اړه جوړه شوې غونډه کې د ارزگان سرپرست والي وویل: «ارزگان کې هرکال په بېلابېلو نومونو زرگونه نیالگي کرل کېږي خو سږکال دې هر ازگانی درې نیالگي یو د ځان لپاره، بل د هېواد او ارزگان د سمسورتیا په پار او درېیم د سولې په موخه کښېنوي. »

د ارزگان سرپرست والي ددې ولایت له اوسیدونکو څخه غوښتنه وکړه، چې په دې کمپین کې برخه واخلي ترڅو هېواد مو زرغون او د سولې، ورورۍ او اخوت پیلامه شي .

د ارزگان سرپرست والي وویل: «د ارزگان ولایت د زرغونتیا او سمسورتیا په پار دې ټول ارزگانیان هلې ځلې وکړي، نیالگي دې کښنوې او پر وخت یې پالنه وکړي.»

په همدې حال کې د ارزگان د کرنې رییس احمدشاه خیري وویل، ددې لپاره چې ارزگان نسبتا یو گرمسېر ولایت دی، د نیالگیو اېښود لړۍ پکې د سلواغې په میاشت کې پیل او د کب تر پایه ادامه لري.

ښاغلي خیري وویل، چې ددې کمپین په ترځ کې د ارزگان د کرنې ریاست له خوا د ښار په بېلابېلو برخو کې اووه زره زینتي نیالگي اېښودل کېږي او ترڅنگ یې د ارزگان ولایت مرکز اوو ولسوالیو کې د شکرپارې ۲۵ هکتاره نوي بڼونه جوړېږي.

احمدشاه خیري وویل،چې سږکال د ارزگان دکرنې اداري له خوا د اووه زره نیالگیو سربېره د خصوصي سکټور په نرسریو کې نږدې ۱۷۹ زره او ۵۰۰ نیالگي تولید او پر بزگرانو او بڼوالو د وېش په پار چمتو شوي دي.

همدارنگه ښاغلي خیري وویل، نه یوازي دا چې دنیالگیو کېنول د چاپېریال د زرغونتیا اوهوا دپاکوالي لامل کېږي، ترڅنگ یې د هېواد او په ځانگړې توگه د ارزگان ولایت په اقتصاد کې هم مهم اغیزه لري.

د ارزگان ولایت د کرنې ریاست ددې ولایت له خلکو غواړي، چې په دې کمپین کې ونډه واخلي او د ونو او نیالگیو ساتنې او څارنې ته ځانگړې پاملرنه وکړي.